


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غربت مزل (ناول)

(ناچاري انسان لاس تړلی کړي؛ زموږ پښتني ټولنه کې د زړه خبره هم نه شو کولی، چې «چا سره مینه لرم؟» که څوک پرې خبر شي، نو د لحد خاورې پرې مړې کوي، د ژوند برخه مو دا ده، چې غربت پر قسمت ملنډې وهي.)

لیکواله:
عزیزه شریفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

.........کتاب پېژندنه:.........................................................................................................

د ناول نوم: **د غربت مزل**

لیکواله: **عزیزه شریفي**

کمپوز او اېډېټ: **عبدالوهاب مومند**

اړیکه: What's app: 0749043834

ایمیل: wahabmomand90@gmail.com

خپرندوی: **انلاین کتابتون**

کال: **۱۴۰۱ل**

کچه: **رقعي**

.........................................................................................................................

**د کتاب حقوق خوندي دي!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ:

خپلې درنې کورنۍ او خوږو دوستانو ته چې تل يې هڅولې يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادښت:**

دا مې د ناول لیکلو لومړی هڅه ده، حتمن خامیانې به لري، په دې هیله چې راته په ګوته یې کړئ!

په خورا درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## *** پیل ***

لمر خپله سترګه نوې پرانیستې وه.

هرې خواته نرۍ سرې د لمر وړانګې خورې وې.

سهار چای ته ناسته وم.

دروازه ټک ټک شوه، شاو خوا مې نظر تېر کړ.

هېڅوک نه تر سترګو کېدل، زړه مې ټکان وخوړه.

یا الله! خیر مې وویل او له ځایه پاڅېدم.

لاس کې نیولې ډوډۍ مې پر دسترخوان کېښوه.

دروازې خواته لاړم، ګورم چې؛ دوه انجونې ګراج کې ولاړې دي.

یوه له قده ټیټه غنمرنګې او بله نرۍ په ونه لوړه سپینه نجلۍ ولاړه وه.

نژدې ورغلم سلام او کلام نه وروسته یې وویلې:

ـ ددې خواکې کور خلک چېرته تللي دي؟

ورته مې وویل:

ـ دوی نور دلته نه اوسېږي، کابل ته یې ګډه تللې ده.

حیرانه شوه او د سترګو نه یې اوښکې روانې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې بې وسه احساس کولو، دېوال ته يې ډډه ولګوله.

دا حالت ما ته هم د زغم نه بهر وو.

سترګې مې رډې کړې چې اخر خبره څه ده؟

په وولې مې ورته لاس کېښود او اوښکې مې ورته پاکې کړې.

ورته مې وويلې:

ـ ولې خورې؟ ستا په نازکه او ګلابي څېره ژړا هېڅ ښه نه ښکاري او نه هم ژړا ته پيدا شوې يې، په غريو کې يې وويل:

ـ زما زړه مات شوی دی.

زما د نمبر غوښتنه يې وکړه.

ما هم بغير د سوچ ورته ژر ورکړ، ځکه ددې معصومې څېرې او ژړا را باندې تاثير کړی و.

ويل يې:

ـ اوس خبرې نه شم کولی، بيګاه ته درته زنګ وهم.

ـ ارامه اوسه اوبه وڅښه، هېڅ خبره نه ده، زه دې خدمت کې يم.

بيګاه ته مو مېلمانه راغلل، هغوی سره مصروفه شوم.

موبايل ته مې هېڅ پام نه و، سهار چې پاسيدم، نو د موبايل په سکرين يوې نا اشنا نمبر نه دوه زنګونه راغلي ول.

ژر مې ورته زنګ وواهه، خو نمبر بند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځې تېرې شوې.

ماسپښين ناسته وم، چاى مې څښه، چې بيا هم د هماغه نا اشنا نمبر نه زنګ راغلو.

اوکې مې کړ، هغې خوانه ښځينه غږ را تر غوږ شو، ژر مې ورته وويل:

ـ عالیې خورې څنګه يې؟ اوس دې حالت څنګه دی؟

له درده ډک حوصلې يې وکړل، زياته يې کړه:

ـ اه! خورې څه درته ووايم، چې څنګه به يم؟ بيخې ښه نه يم.

ـ ولې داسې خبرې کوې، اخر کيسه څه ده، چې ته داسې ناهيلې يې؟

ويل يې:

ـ ښه غوږ شه!

ژر مې موبايل لوډسپيکر کړ او ليپټاپ مې را واخيست.

ومې ويل:

ـ اورم عالیې!

(( دا چې زه کور کې کشره او نازولې وم، نو بهر کار به ما کولو لکه ترکاري راوړل او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه خور مې وه، چې تل به يې موبايل يا ام پي تري خرابه وه.

زه به يې لېږلم چې دا بايد يو موبايل جوړونکې يا په اصطلاح مستري ته يوسم.

يو دوکان ته به تللم چې جوړه يې کړي.

اوونۍ کې يو ځل به حتماً ورتللم، ځکه خور مې ټول کباړ را ټول کړي و، تل به خراب و.

زما هم خوښېده چې لاړه شم، ځکه هغه دوکاندار مې په سترګو ښه لګېده.

صرف بهانه به مې لټوله چې ور شم.

که ام پي تري به مې ور وړه، نو بيا به دوه درې ځلې ورتللم، چې جوړ شوی او که نه؟

دا چې زموږ چوک کې همدا يو دوکان و، نو خامخا بيرو بار به پرې زيات و.

***

سبا ورځ باندې د ژمي ښايسته مازيګر و، د لمر ژېړه سترګه هم ړنه ښکارېده.

يخ شمال لګېدو، خور مې وويل:

ـ عاليه لاړه شه! دا ام پي تري واخله او نژدې دوکان ته يې يوسه چې خرابه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول خو مې ډېرې بهانې وکړې چې يخنې ده او مکتب نه هم ستړې راغلې يم، هسې مې په عذابوله چې غوسه شي.

خو مورجانې مې وويل:

ـ هله! لورې لاړه شه، خور دې مه په عذابوه.

مجبوره وم چې لاړه شم.

لاړم په دوکان کې ډېر رش و، غاړې ته ودرېدم.

چې خلک کم شي، بيا به ورننوځم.

دوکاندار نه ښکارېده، بيرو بار کې پټ و.

کله چې خلک کم شو، نو دوکان ته ننوتم.

گورم چې يو غنمرنگه هلک او جذابه څېره يې لرله، ناست و.

سر يې ټيټ و، ويې ويل:

ـ څه غواړې؟

زه چې ددې ښايست ته حيرانه وم.

غوږونه مې درانه شوي و، په خيالي نړۍ کې مې قدمونه وهل، زړه مې بې واره درزېدو.

يوې خوانه د ژمي مازيگر ښايسته عاشقانه هوا بيخي يې تاثير لاندې راوستې وم.

سر يې پورته کړ، د غټې او منځنۍ گوتې نه يې ټق وکاږه، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هې اورې! څه غواړې؟

ژبه مې ونښته.

ـ دا امهم پې ترې خرابه ده.

په خندا یې وویلې:

ـ په دې کې د سوچ څه و؟ راکړه! چې جوړه یې کړم.

ژر مې ورته په مېز کېښوده.

زه ډېره بې جرائته او ارامه وم، نور مې هېڅ نه شو ویلې.

لږه خندنۍ شوم، سر مې ټیټ کړ.

ویل یې:

ـ ځه! خیر دی، که ضروري مو پکار نه وي، سبا ورپسې راشئ، ان شاءالله! جوړه شوې به وي.

چا یې خبرې ور پرې کړې.

ـ وه منصوره که دې اغلې سره دې کار خلاص شوی وي، نو دلته راشه.

هغه لاړه، زه هم کور خوا روانه شوم، ماښام شو، نرۍ نرۍ باران ورېده.

د خاورې بوی هرې خواته خپور و، زخمي زړونه یې تازه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران مې ډېر خوښېده، تل به ورته درېدم، ښه احساس يې را ښنه، مستۍ به مې ور سره زياته شوه.

تل به مې رسمان بازي د ميده باران لاندې کوله.

د خاله او ماما لورګانې به هم راسره وې، سخت به يې خوند کولو.

شور به مو جوړ کړی وو.

مورجانې به مې څو ځلي غږ را باندې کولو:

ـ بس کړئ، ناروغې به شئ.

خو مور به دومره په لوبه کې ګرم راغلي وو چې د چا اواز به مو نه اورېده.

نو نن هم د تل په څېر ورته لړه ودرېدم.

ملګرې مې نه وې، تاوه را تاوه شوم، لمده شوم، مور مې غږ کړ:

ـ وه جلۍ راشه چې ناروغه به شې.

په منډه راغلم چې کالي مې بدل کړم.

په تخت کې پرېوتم، مازيګری صحنه مې نه هېرېده.

يو عجيب احساس راته پيدا شو، لکه نوې چې زېږېدلی اوسم.

هغه بادامي سترګې چې مسکا پکې ځلا کوله، زما په ذهن کې د يو ثبت شوي فلم په شان تېرېده را تېرېده.

په همدې فکرونو کې ويده شوې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپله مې له مخ نه لرې کړه، اسمان ځای ځای وریځ و.

سترګو مې بریښن وکړ، زر مې مخ بېرته په کمپله پټ کړ.

ته به وايې، چې نوې پېغله تنکي زلمي نه مخ پټ کړي.

په خندا شوم، عجیبه احساس را سره مل و.

شیبه وروسته پاڅېدم، ځان مې تیار کړ، مکتب ته لاړم.

بې علته خوشحاله وم، همزولو په عذابولم چې څه خبره ده؟

ومې ویلې:

ـ هېڅ هم نه، یوازې ناستی خوند راکولو.

خو چا یواځې نه پرېښودم.

ور خطا وم چې کله به یې ګورم او د زړه باغ به مې پرې ګلو ګلزار شي.

مکتب رخصت شو، دوه انجونې چې زموږ ګاونډیانې وې، یو ځای کور ته لاړو.

ګورم چې مېلمانه مو راغلي وو.

خپلې کوټې ته لاړم، د مکتب کالي او ټیکری مې بدل کړ.

کتابونه مې هم الماری کې کېښودل.

خاله لورګانې مې راغلې وې، زما نژدې دوستانې وې.

ویلې یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ عاليه! نن به موږ سره چکر ته ځې.

حيرانه شوم چې په څه بهانه به له دوی نه ځان خلاصوم.

ومې ويل:

ـ سر مې درد کوي، نه شم تللې.

په خندا يې وويل:

ـ اوس نه ځو، د سر درد درمل وخوره، مازيگر پورې به ښه شې.

مجبوره وم چې لاړه شم بله لاره نه وه.

مازيگر شو، د زړه درزا مې زياته شوه.

يو خوانه د منصور ليدو ته بې قراره وم او له بلې خوا د چکر غم مې په سر پروت و.

درونتې ځوانانو پارک ته لاړو.

ښه منظره يې لرله، ساعت مو تېر شو، ماښام ناوخته کور ته راغلو.

ماما مې هم موږ سره تللی و.

بېلابېل ځايونه يې موږ ته وښوده، واقعاً افغانستان هم ډېر ښايسته ځايونه د چکر وهلو لپاره لري.

خو کاش چې دا جگړې نه وای، هېڅوک به مجبور نه و، چې هېواد نه بهر خپلې پيسې مصرف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګیا په وجه شپې وخته ویده شوم، ځکه پیاده مزلونه مې کړي وو.))

نور یې خدای په امانی وکړه، موبایل بند شو.

نمبر مې ثبت کړ، زه هم پاځېدم چې مازیګر لمونځ وکړم.

دوه ورځې تېرې شوې، مګر عالیه زنګ ونه وهلو، دا چې زه هم ددې کیسې ته په تلوسه کې وم.

نو ما ورته زنګ ووهلو.

کله یې چې موبایل اوکې کړ، غږ یې لږ خراب و.

ومې ویل:

ـ خورې ناروغه یې؟

ـ هو!

خبره مې ور پرې کړه:

ـ که خبرې نه شې کولی، بل وخت به راته کېسه وکړې.

په خندا یې وویل:

ـ نه نو دومره هم ناروغه نه یم، غوږ شه!

(( یوه ورځ بعد ام پې ترې پسې ورغلم، کله چې ورسېدم نو ګورم چې جوړه کړې یې وه.

منصور وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اغلې! پرون ولې نه وې راغلې؟ ما په هماغه ورځ ام پي ترې جوړه کړې وه.

ـ لږ کار مې لرلو، را يې کړه چې ځم.

ـ دا ام پي ترې دې واخله او دا خط هممم...

زه حيرانه شوم، په لړزېدلي لاسونو مې ترې خط را واخيست.

ژر مې ټيکري کې پټ کړ چې څوک يې ونه ګوري.

کور ته لاړم، خپلې کوټې دروازه مې خلاصه کړه، په توشک کېناستم.

سوچ مې کولو چې دا اوس ولولم او که څيرې يې کړم؟

اخر مې هم د خط لوستلو باندې فيصله وکړه.

د خط په لوستل مې پيل وکړو، متن په دا ډول و:

« اسلام عليکم! الله تعالی دې وکړي چې روغه او جوړه اوسې.

ستا نوم خو مې نه دی زده، چې څه به وي؟

په اول ځل ليدو دې زما زړه رنځور کړی دی.

ښکلا دې ساری نه لري، رب په څومره هنر جوړه کړې يې.

دا پنځه مياشتې وشوې، چې ما به ستا د راتګ لپاره ګوتې شمارلې.

دا دوه شپې ستا ليدو نه وروسته مې هيڅ خوب نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا مسکا او په ځیر ځیر کتل مې سترګو مخکې تېرېدل، بیا یې دا بیت لیکلی و:

**ستا محبت کې ما څه بل شان لیونتوب کړی دی**
**نه مې دمه کړې ده، نه مې چرته خوب کړی دی**

لیکلی یې و، که ستا زړه کې هم څه وي، نو ماته زنګ ووهه او که نه نو خط لرې وغورځوه»

خپله شمېره یې د کاغذ په وروستۍ برخه کې لیکلې وه.

حیرانه وم چې څه وکړم، فکرونو کې لاهو شوم.

چې څنګه یو کس د بل په زړه پوهېدلی شي.

دا وخت ما له خدایه غوښتلو، چې یو ځل هم که کېږي، نو ورسره خبرې وکړم.

موبایل مې نه لره، خو بیا هم خوشحاله وم.

خور مې راغله، ویل یې څه کوې؟

ـ ورته مې وویل، درس وایم، امتحانونه نژدې دي.

باید ښې نومرې ترلاسه کړم، چې پلار جان را سره د موبایل وعده کړې ده.

خور مې وخندل، ویې ویل:

ـ ښه سمه ده نو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ولاکه به ملا شې**
**ناست کتابو ته يادوې شينکي خالونه**

په خندا مې وويل:

ـ نه خورې داسې خبره نه ده، نه! گورې چې کتاب مې مخکې دی.

ـ هغه دې هم سرچپه نيولی.

ډېرې خجالتۍ نه زه هم په خندا شوم، ژر مې کتاب راسته کړ.

درس خو نه ويل کېده.

زما زړه نور يو چا پسې رنځور شوی و.

په همدې کې يوه اوونۍ تېره شوه، زړه سره مې په بحثونو کې بوخته وم.

چې زنگ ووهم او که نه؟

جرئت ته مې سا ورکړه، د شپې ناوخته مې د پلار موبايل نه ورته زنگ ووهلو.

منصور وويل:

ـ هلو! څوک يې؟

ـ ولې خبرې نه کوې؟

موبايل مې بند کړ، هغه پوه شو، چې دا هماغه نجلۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر يې بيا زنګ ووهلو، په لړزانده لاسونو مې اوکې کړ، هغې خوانه د هلک غږ مې تر غوږو شو.

د هلو غږ مې په غوږونو کې انګازې کولې.

په نيولې ستوني سره ومې ويل:

ـ سلام اليکم!

ـ ستا نوم خو مې ياد نه دی، چې د دې حسينې جنۍ نوم به څه وي؟

ـ عاليه! راته ويلی شې.

غلې شوم، منصور خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

ـ موبايل دې خپل دی؟

ـ نه! د پلار مې دی، که خبرې مې کولې، زه درته زنګ وهم، موبايل مې بند کړ.

له خوشحالۍ مې ټوپونه ووهل، په ځان نه پوهېدم کوچني ورور مې حيران راته ولاړ و.

ويې ويل:

ـ خورې خيريت خو دی؟!

ډېره خجالته شوم، ځان مې تېر ويسته.

په خپل ځای کې کېناستم، ورو مې وويل:

ـ هسې د لډو يو ميدان مې وګټه، ځکه خوشحاله شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه سمه ده، چې ته وایې نو منم یې، خو باور مې نه کېږي، چې لله‌و لپاره دې ځوک دومره خوشحاله شي.

دا زموږ د کور کوچنی و، خو ډېر زیرک و، هر څه ته به یې پام اوښته.

یوه شپه هماغه نمبر نه زنګ راغلو، اوکې مې کړو.

ـ هلو، اغلې عالیه!

ـ اورم، څنګه یې؟

ـ ستا لیدو نه وروسته بې حاله شوی یم، چندان ښه نه برېښم.

ـ ګوره! داسې به نه وي، له مخکې نه به همداسې وې هههههه

ـ مخکې مې خوبونو کې یوه شهزادګۍ وه، خو اوس مې پیدا کړه، ان شاءالله! چې خپلوم به یې.

ـ دومره هم اسانه نه ده.

منصور وخندل:

ـ الله تعالی ته مې امېد دی.

یو څه خبرې مو وکړې، بیا مو خدای په اماني وکړه.

همداسې ورځې او شپې تېرېدلې، کله ناکله به مو په ټلیفون کې د زړه خواله کوله.

ما به ډېرې خبرې نه کولې، ځکه موبایل مې د پلار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به مې چې پلار نه و، یا به ویده و، نو ما به په یوه گوښه کې منصور ته پټ زنګ وهلو.

یوه ورځ منصور وویل، چې سخته مې یادېږې، باید ودې گورم.

ما هم ومنله، د شپې لس بجې مې ورسره زموږ گراج کې د ملاقات وعده کېښوده.

ماښام باران شروع شو، د خاورې بوی هرې خواته د عطرو په شان خپور و، اسمان خپله تیاره خوره کړې وه.

یوازې د باران څاڅکو نرۍ نغمه تر غوږو را رسوله.

عاشقانه فضا وه، د منصور کمی احساس کېده، ژر مې خپل پلار ولیده، چې چېرته دی، خو ښه و، ویده و.

د دروازې شاته غلی غوندې غږ شو، لکه څوک چې وپسپېږي:

ـ عالیه زه راغلم.

ژر مې دروازه خلاصه کړه.

دی راننوته زما لاسونه یې ونیول، ساړه لاسونو کې یې لړزه ور ننوتې وه، په رپاند غږ یې وویل:

ـ عالیې! ستا په گلابي شونډو کې نرۍ مسکا ډېره ښه ښکاري، د سترگو ځلا دې بیخي انسان وژني، سپین مخ دې د څوارلسمې سپوږمۍ په شان د ښکلا اخري حد ته رسېدلې ده.

ما له ډېره شرمه ځمکې ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ما ته وګوره! هسې نه چې دا مو لومړی او اخري ملاقات وي.

په خوله مې ورته لاس کېښود:

ـ پام چې بیا داسې خبره ونه کړې !! ولې به اخري وي، د یو ځای ژوند ژمنه مو کړې.

بیا مې ورته زیاته کړه:

ـ زړه مې نه کېږي، خو لاړ شه، چې ژوک رانه شي.

دی لاړه، خو زما له زړه نه یو الله خبر و.))

موبایل بند شو، دا چې شپه وه او بې خوبه شوې هم وم، نو ژر ویده شوم.

***

سهار پاڅېدم، لاړم ښار ته لږه سودا مې وکړه، د خور واده مې نژدې و.

مازیګر پورې ښار کې وم، د واده سودا خو اسانه نه وي، بیا خو د ښځو دا رنګ اخلم او دا نه؛ یو دوکان ته به شل ځلي ورځي، په هر صورت...

دا چې عالیه هم راته ویلي و درځم واده ته، نو بیګاه مې ورسره لنډې خبرې وکړې چې دعوت یې کړم. ویل یې:

ـ که د منصور مور درځي، زه هم درځم، هغه به هم وګورم.

ـ هو ګرانې! سبا کابل ښځه راځي، جمعې په ورځ واده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دوی پنجشنبې په ورځ راځي، د نکریزو شپې لپاره...

موبایل مې بند کړ، یوه اوونۍ تېره شوه، واده مراسمو کې بنده وم.

عالیه هم نه وه راغلې، زنګ مې ورته ووهلو، سلام کلام نه وروسته مې ورته وویل:

ـ ولې نه وې راغلې؟

ـ خورې وس مې نه لرلو، چې ورسره مخامخه شم.

داسې مې حس کول، چې سترګو نه یې اوښکې روانې وي، د سلګیو آوازونه یې هم ورو ورو پورته کېدل.

په رښتیا هم ډېره خپه شوم.

ورته مې وویل:

ـ کولی شې نوره کېسه راته وکړې؟

ـ هو!

(( هره ورځ به ددې دوکان مخکې تېرېدلم، په سترګو کې به مو زیاتې خبرې یو بل ته کولې.

ازموینې پیل شوې، ما هم د زړه نه کوشش کولو، چې ښې نومرې ترلاسه کړم، شپه او ورځ مې په ځان یوه کړې وه.

ډېرې ورځې وروسته؛ بلاخره ازموینې خلاصې شوې، ما منصور ته زنګ ووهلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سلام کلام پس مې ورته وویل:

ـ اول نومره شوم، څه به راته اخلې؟

ـ هر څه چې غواړې درته یې اخلم، زه خو ټول ستا یم او تل به ستا اوسم.

په خندا مې ورته وویل:

ـ په تا به څه وکړم؟ ما ته به کالي اخلې.

ـ ښه سمه ده، نور څه غواړې؟

موبایل مې پرې کړ، لا مو پایله نه وه اعلان شوې، منصور وویل، چې یو ځل دوکان ته راشه، کله چې ورغلم، ژر یې یو سپین پلاستیک لاس کې راکړ.

ورته مې وویل:

ـ په دې کې څه شی دي؟

ـ په خندا شو، زیاته یې کړه:

ـ ستا امانت!

حیرانه شوم چې ما کله ورته امانت سپارلی و.

کور ته لاړم، د کوټې دروازه مې بنده کړه.

پلاستیک مې خلاص کړ، گورم چې یوه سره جوړه پکې ده.

یو خط ورسره و، لیکلی یې و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« سره جوړه به درباندې ډېره ښه ښکاري.»

لس ورځې رخصت تېر شو، مکتب ته لاړم.

استاذ هم ډېر په عذاب کړم چې درې مضامینو کې پاتې یې.

حیرانه شوم چې زه به څنگه پاتې یم، ما خو یو مضمون کې هم داسې سوالونه نه دي پرېښي، چې زه دې پاتې اوسم.

استاذ په تعجب انداز وویل:

ـ ښه نور مو نتیجه اعلانوم، چې ستاسو حوصله هم تنگه شوه.

ما فکر کولو، چې اول به زما نوم وي، خو استاذ «ثناء» ته اشاره وکړه، چې راشه اول نومره شوې یې.

هغې ته یې د انعام په ډول یوه کتابچه او قلم ورکړ، شاگردانو ورته لاسونه وپړقوول، ما هم په نه زړه لاسونه یو بل ته نژدې کړل، یو غبر ترې اوچت شو.

د زړه درزا مې زیاته شوه، په رښتیا هم ډېره خپه نه شوم، خامخا ثناء جانې به کوښښ ډېر کړی و، چې اول نومره شوه او زما به همدا په وس کې و.

خو زړه نا زړه او بې کراره وم، نپوهېږم ولې داسې ومه؟

ځای مې خوند نه راکولو، پاڅېدم، چې یوه بهانه جوړه کړم او له صنف څخه بهر شم.

خو استاذ ناڅاپي را غبر کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ عاليه! ته چېرته ځې؟ په تا خو مې شيريني اوښتې ده.

ـ د څه شي؟

استاذ وخندل:

ـ دويم نومره شوې يې، مبارک دې وي!

ټولو شاګردانو لاسونه وپړقوول، شور جوړ شو.

څوک خوشحاله او څوک خپه نژدې دوستانې مې راغلې او غاړه يې راکړه.

دوی به همېش له رشخنده ما ته ليلا ويله.

ويې ويل:

ـ ليلا تا خو سمه معجزه وکړه.

خندا په ټول صنف کې خوره شوه، استاذ وويل:

ـ ارامه شئ!!

ـ عاليه جانې! راشه او انعام دې واخله.

ډېره خوشحاله وم، که څه هم اول نومره شوې نه وم، خو کوشش مې رنګ راوړی و.

په خوشحالي کې کور ته لاړم.

کورنۍ مې هم خوشحاله شوه، پلار مې موبايل سره د نوي سيم کارته راته اخيستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیرانه شوم، چې لا راغلې نه یم، نو پلار مې څنګه خبر شو او ما سره خو یې تحفه د اول نومرګۍ په سر منلې و.

پلار مې وویل:

- لور جانې! ما ته ستا کوشش مهم دی، ته به مې هر وخت لیدلې چې تا به خپل درس ویله، پنځه امتحانونه دې لا تېر شوي وو،

چې ما درته موبایل اخیستی و، خو ستا مور ته مې سپارښتنه کړې وه، چې ورته مه وایه، پرېده چې خپل درس ووایي.

غاړه مې ورکړه او د زړه له تله مې وویل:

- شکر دی پلارجانه! چې لرم دې، د دنیا بهترین پلار یې.

ژر مې موبایل را واخیست، اوپو نوی ماډل و.

خوشحالي مې یو په دوه شو.

د منصور شمېره مې له یاده زده کړې وه، ژر مې ډایل کړه.

هغه اول دوه زنګونو کې اوکې نه کړ، خو په درېیم زنګ کې یې مبایل پورته کړ:

- ولې نازونه کوې!؟

په خندا شو:

- چې کوم څوک راته مزاحمت ونه کړي، ځکه نمبر نا اشنا و.

احسان مې پرې بار کړ، ورته مې په غریبه لهجه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یو زه درپسي لیونۍ یم، نور دې څه کوي!

ـ اووو هووو ډېر مې غواړي، خلک راپسې مړه مړه دي، خو زه یوازې تا غواړم، نورو ته نظر هم نه ورکوم.

ـ امممم، ښه سمه ده، سیي شو.

همداسې وختونه تېرېدل، موږ په خپل مینه کې ډېر ښه روان و، ورځ تر ورځې مو مینه زیاتېدله، کله موبایل کې خبرې او کله هم ملاقاتونه...))

موبایل بند شو.

ما هم لپټاپ بند کړ، مورجانې مې غږ کړ، راشه چې خاله دې زنګ وهلی، وایي بېګاه ته زموږ مېلمانه یاست.

خوشحاله وم، چې لاړه به شم، ساعت به مې تېر شي.

زه هم کور کې ناستی باندې ستړې وم، یوه شپه مې وکړه، بېرته خپلې جونګړې ته را وګرځېدم.

له دې چکر سره فکر مې ډېر ارام شوی و...

عالیه ته مې زنګ ووهلو، ویل یې:

ـ ښه پاتې کیسې ته غوږ شه!

((ورو ورو راباندې یو یو کس خبرېده، منصور دوی کورنۍ هم خبره وه او زما دوه خویندې هم.

یوه ورځ مې منصور سره خبرې کولې، چې خور مې را باندې راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل يې چا سره خبرې کوې، بهانه مې ورته وکړه چې همصنفۍ مې ده.

خو خور مې له مخکې په ما شکي وه.

هېڅ يې ونه ويل، له کوټې بهر شوه.

خو تل به يې زه څارلم، چې ګوندې چا سره خبرې کوم.

موبايل به مې سايلنټ ساتلو، ځکه که د منصور زنګ راشي، نو څوک يې ونه ګوري.

يوه شپه يې وويلې، ای عاليه! که زه درنه لرې لاړ شم...؟

خبرې مې ور پرې کړې، چې داسې مه وايه، يو ننګرهار کې دې لرېوالی نه شم زغملی.

په خندا شو:

ـ مه غوسه کېږه، هسې ګپ لګوم.

ـ ګپ کې هم داسې خبرې مه کوه، زړه به مې وچوي.

په سبا يې راته زنګ ووهلو، چې دروازه کې ودرېږه، کوچنی ورور مې درځي، ستا نارنج ډېر زيات خوښېږي، ورنه يې واخله.

ـ ښه سمه ده مور ته مې وويلې، همصنفۍ مې راته نارنج راوړي، زه دروازې ته ځم.

لاړم، ګورم چې يو ماشوم راغلو، ما ورته وويلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سترې مشې شهزاده!

ـ ښااا عاليه ورندار ته يې؟

ـ هو

ـ ښااا نو ته غوږ را ټيټ کړه، چې يوه خبره درته کوم.

ما چې سر ور ټيټ کړ، نو يوه مچکه يې واخيسته، په خوله يې لاس کېښود.

ـ لالا مې ويلې، که ورندار دې مچو کړه، سل روپۍ درکوم.

په خندا شوم، رنگ مې له ورخطايۍ نه سور شو.

يو ککو مې ورته لاس کې ورکړ.

ماشوم خوشحاله شو، منډه يې کړه.

منصور ته مې زنگ ووهلو، چې امانت دې را ورسېده.

په مسکا يې وويل:

ـ هو ستا امانت هم ما ته را ورسېده.

شرم نه مې خبرې بندې بندې شوې.

خبره مې په بله واړوله:

ـ کلي ته ځم، واده دی !

ـ نو بيا به خبرې هم نه کوې نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه نو، یو خو د کلي خلک ډېرې خبرې کوي، چې انجونو سره موبایل وي او بل هلته سیګنل هم کار نه کوي.

ـ ښه سمه ده، جدايي دې زغملی نه شم، خو ته په ارامه چکر ووهه.

سبا لاړم کنړ ته، ډېر ښایسته ځای دی.

شنه ښکلي ځایونه او منظرې یې لرلې.

واده نه یو ورځ مخکې تللي وو، لومړی مو چکر ووهلو، شنو پټو په لاره لاړو کنړي سیند ته.

د سیند چپو ښه زور اخیستی وو.

مور یې هم ښه دیدن وکړ، ذهن مو پرې تازه شو.

منصور مې سترګو سترګو ته کېده.

ویل مې کاش هغه هم وای!

لاس په لاس به مو دې شنه فضا کې قدم وهلو.

ناڅاپي پام مې نه و، خور مې اوبه راوشندلې.

له یخو اوبو څخه وریږدېدم، خیالي نړۍ یې را ورانه کړه، ټوپ مې کړ.

ورته مې وویل، نه! هسې د کنړ ښکلا ته حیرانه یم.

سره د دومره ښکلا د هېڅا پام هم ورته نه دی او هېڅ ډول خدمت ورته د حکومت لخوا نه دی شوی، که لږ کار ورته وشي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال به ورته له بهره چکر ته راځي.

خور مې په خندا شوه، ویل یې:

ـ ډیره هوښیاره شوې نه یې؟!

ـ زه پخوا نه هوښیاره وم.

سبا ته د واده لومړۍ ورځ وه.

درې ورځې وروسته بېرته خپلې جونګړې ته راغلو.))

موبایل بند شو، زه هم په خپلو کارونو بوخته شوم، څلور ورځې تېرې نه وې، چې عالیې بیا زنګ را ووهه.

په ډک ستوني یې خبرې یې پیل کړې:

(( دا چې یو څه وخت مو خبرې نه وې کړې.

کنړ نه مې ښایسته سره ګلابو راوړي وو، خپلې مینې لپاره مې خپله په باغ کې راټول کړي وو.

وړې خورزې ته مې یو لیک او ګلان ورکړل:

ـ ګرانې! دا امانت د منصور دوکان ته یې یوسه.

د لیک پر مخ مې ورته لیکلي وو:

( کنړي ډالۍ زما مینې منصور جان ته!) درنښت «ستا خوره!»

**د جدايي ورځې دې شــمارم**

**ټــول تاریخونه مې په زړه لیکلي دینه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ګېنټې وتې نه وې، چې زنګ یې ووهلو، رانه مننه یې وکړه.

ما هم لنډې خبرې وکړې، ځکه ډېره ستړې وم.

سبا شپه یې راته خبرو کې وويل:

ـ ماماګان مې ټول تللي ترکيې ته، زه هم غواړم لاړ شم.

ـ ته له دې خبرې نه اوړې.

ـ ګرانې! یو د افغانستان حالات خراب دي او بل دا اقتصادي مشکلات؛ نور یې نه شم زغملی، په یو دوکانداري هم نه کیږي، زه باید ترکیې ته لاړ شم.

حیرانه شوم په ستړې غږ مې وويل:

ـ دا خبره له کومه شوه، زه به څه کوم؟

ـ ای لیونۍ چې ورسېدم، اول کار به مې تا پسې مرکه وي او تا به هم ترکیې ته غواړم، چې راشې، هلته به بې غمه ژوند کوو.

ما هېڅ ویلو ته نه لرل، صرف ښه ښه مې کول.

راته یې کړل:

ـ ولې خبرې نه کوې؟

ـ اوس ښه نه یم، بیا خبرې کوو.

په تخت کې پرېوتم، کمپله مې په ځان کش کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگو نه مې بې واره اوښکې روانې شوې.

زړه مې نه منله، چې منصور دې په قاچاقي لاره روان شي.

سل خبرې مې زړه ته درېدلې، بیا به مې ژر وویل، وی ! الله دې نه کړي!!

سلگۍ به مې زیاتې شوې.

پاڅېدم، یوه کتابچه مې را واخیسته.

خپل یو تصویر مې پکې ولگولو، یو څو لنډۍ مې پکې ولیکل، چې یادگار پاتې شي.

**مسافـر تللې در جیـــگه نه شـــوم**
**گیله من مـشې زه سلگو نیـــولې ومـــه**
*******

**فـراق خـوري پر ما د زړه وینـــې**
**اشنـــا مې نشتـه الله مـې ویني**
*******

**مسافـري سخـتـه خـواري ده**
**یو کال خواري ده خدای به یې تېره کړي مینه**
*******

**اول مـې فــکـر درتـه نــه و**
**اوس مـې د زړه ستنې کږې درپسې دینه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې زياتې ټپې مې ورته وليکلې، چې زما د زړه حال يې بيان کولو، هغه خبرې چې ما ښکاره نه شوی کولی.

د شپې ناوخته پورې ويښه وم، سوچونو له ځانه سره ډوبه کړې وم، شپې راسره دمه ونه کړه، د ملا اذان مې تر غوږو شو او سترګې مې را باندې پټې شوې.

يو وخت خورې را باندې غږ کړ:

ـ عاليو مکتب ته نه ځې، چای تيار دی.

ـ نه خورې سر مې درد کوي، نه شم تللې.

مور مې په ورخطايۍ راغله:

ـ ولې لورې، څه شوي درباند، بېګاه دې هم د کوټې ګروپ نه و بند کړی، څه ناروغه يې؟

د بې خوبۍ او ژړا په وجه سترګې مې پړسېدلې وې، مور ته مې بهانه وکړه:

ـ بېګاه مې سر درد کولو، نه يم ويده شوې.

مور مې خپل د عاطفې ډک لاسونه زما په سر کېښودل.

اووه ځلې يې سوره فاتحه (الحمدالله شريف) وويلې او دم يې کړ، چې ښه شم.

ما هم دسترخوان نه يوه جوش شوې هګۍ پورته کړه، ومې ويل:

ـ ځم چې ويده شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور را غبر کړ:

ـ کښه چای وڅښه چې بیا درمل وخورې.

ـ اه! زما دوا په دې دنیا کې یو ډاکټر سره هم نشته.

له ځایه پورته شوم، خپلې خونې ته لاړم، په تخت اوږده وغځېدم.

تلیفون مې وربېږدېده، په ناست غبر مې هلو کړل:

ـ وا عالیې بېګا نه مې خوب نه دی کړی، ته ولې داسې کوې؟ غوسه شه، یو څه ووایه! ستا خاموشي مې وژني.

ـ زما غوسه اوس څه فایده لري؟ ستا فیصله به بدله کړي؟

ـ خو چې لاړ شم ښه دی، ستا د پلار ولور به دلته څنګه پوره کوم؟

د منصور یو عادت و، زما غوسه کول یې خوښېده.

کله به چې ما نه غوښتل خبرې وکړم، دا به ښه پوهېده چې څنګه مې په خبرو راولي:

ـ زما پلار کله ویلي چې ولور اخلم؟! هسې بهانې کوې، غوږ شه؛ یوه کتابچه مې درته یادګار په ډول لیکلې، بیا راشه چې در یې کړم.

ـ په تکو تورو سترګو درځم.

د تلیفون اړیکه پرې شوه، ما هم خپلې سترګې پټې کړې، چې لږ څه ارامه شم، شېبه وتې نه وه، د موبایل شرنګ شو، بې سېکه لاس باندې مې موبایل را واخیست، ګورم چې پر سکرین باندې د یوې همصنفۍ زنګ راغلی و، زړه نا زړه مې اوکې کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سلام، ولې مکتب نه وې راغلې؟

ـ سر درد وم.

دا بلا وهلې په ما شکي وه، چې ټول میینتوب داسې کړې یم.

یو وخت یې زما کتابچه کې د منصور نوم لیدلی و، په خندا شوه:

ـ عاشقي سخته بلا ده.

ـ نه دا خبره نه ده، سر درد هغې پورې څه اړه لري؟

ما غوښتل چې خبره بلې خوا ته یوسم، خو هغې موضوع نه بدلوله.

ـ پام کوه ګرانې چې دا هلکان د باور وړ نه دي.

ـ نه! خورې بې غمه اوسه، زه په چا باور نه لرم. ))

موبایل بند شو

سبا یې راته بیا زنګ ووهلو، عالیې غوښتل خپل داستان ووایي او زما اراده هم ټینګه وه، چې دده د ژوند یوه برخه ولیکم.

فکر یې نه و، ما موبایل اوکې کړی و.

درې غږه مې وکړل، خو هغې خوا نه ځواب را نغی.

بل چا ورته خبرې کولې، غږ یې لږ لږ ما اورېدلو.

ورته یې ویلې، بس دی نور ولې ځان زوروې.

دا کتاب به تا ته څه فایده وکړي.

عالیې ژر غږ وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وبښه اغلې شريفې! موبايل ته مې فکر نه و، لکه څې ډېر انتظار دې وکړو.

ـ نه ګرانې کومه خبره نه ده.

ـ ښه سمه ده غوږ شه نو!

(( دوه ورځې وروسته د شپې لس نيمې بجې منصور زنګ ووهلو.

چې نيم ساعت وروسته کور ته درځم، يو ټيکرى دې د يادګار په ډول راکړه.

سهار ته لخيره سفر لپاره خوزېږو.

اول ايران ته ځو او بيا هماغسې ترکيې ته...

پښو نه مې ځمکه وخويېدله، خدايه دا څه وشو!!

نيم ساعت وروسته د موټرسايکل اواز مې در غوږو شو، ژر پاڅېدمه.

ټول مې وڅارل چې ويده دې او که نه!؟

يوولس بجې وې، نو ټول په خوارږه خوب ويده و.

دروازه مې خلاصه کړه، منصور سترګې د ډېرې ژړا نه سرې اوښتې وې.

خو ما ته يې داسې ډاډ راکولو، ته به وايې چې هېڅ خپه نه دى.

خو هر څوک خپل مېين پېژني، چې زړه کې يې څه تېرېږي.

ما ته مې اوښکو د خبرو کولو موقع نه راکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر ځل لپاره مې په مړو سترګو ورته وکتل، کلک مې غېږ کې ونیولو.

کتابچه او خپل شین څادر مې ورته وسپاره.

سترګې مې پاکې کړې او هغې ته مې هم وویلې، نور مه ژاړه!

خو داسې جدايي کې چېرته کېږي، چې څوک دې ونه ژاړي.

په ډکو سترګو مې رخصت ورکړو، منصور دا بیت ډیکلومه کړ:

**مسافر ځمـه بیا راځمـه**

**تا به په مــرګ نه هېرومه**

د منصور وروستۍ خبره همدا وه، چې لاړم وطن مې پرېښود درنه لاړم...

دروازه مې بنده کړه، زه هم بې شیمې خپلې کوټې خوا روانه شوم.

سخت مې وژړل، دا لویه نړۍ راته سره د خپلې پراخوالي ډېره تنګه او وړه شوه.

وېره راسره مل وه چې خدای مه کړه په منصور باندې لاره کې څه ونه شي.

قاچاقي لارې ډېرې سختې وي، غلو او پولیسو نه ځان بچ کول سخت کار دی.

ځینې کسان خو لاره کې مړه شي او هېڅ درک یې نه وي، چې ژوندي به وي او که مړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ يې خوشحاله وي چې اوس به رسېدلی وي، خو لاره کې د ظالمانو له لاسه د سپو خوراک شي.

ژر مې وسوسو نه خيال را جلا کړ، په زړه کې مې کلمې وويلې.

سبا ته په نهاره روژه شوم، د دې لپاره چې الله تعالی يې پخير ورسوي.

پټ پټ به مې ختمونه کول او بار بار به مې ورته زنګ وهلو، احوال به مې اخيستو چې چېرته او څنګه يې؟

هغه چې ډېر زيات راپسې خپه و.

ويل يې، ای عاليې ډېر درپسې خپه يم، هر چېرته سېګنل هم کار نه کوي، نور هر وخت ستا څادر ته خپل زړه تشوم، کله هم ښې ورځې او کله هم ستا اخري سلګۍ زما مخې ته ودرېږي.

دلته موږ لس کسان وروڼو غوندې يوو، بل ته لاس ورکوو.

يو ځای کې حتا زموږ ديارلس شپې راځي.

دېوالونو څنګ کې حيران ناست يوو چې کله به حرکت کوو؟

يو بل ته د خپل ژوند کيسې کوو.

څوک د خندا لپاره مسخرې کوي چې ساعت مو تېر شي او څوک هم خپل ډک زړه تشوي، د کورنۍ فراق په وجه اوښکې تويوي.

يوه ورځ مې ملګري سخت وژړل، ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ منصوره ورووره ډېره راته سخته ده، کلي کې یوه مینه لرم، د هغې جدایي نه شم زغملی، د کلي د خان لور وه، زموږ غریبي او د هغوی مالداري هېڅ نه جوړېدله، مور مې څو ځلي راته یاده کړه چې موږ ته یې نه راکوي، ولې پرې خوله سپیره کړو، ما ته به یې تسلي را کوله، ویل به یې، د کلي انجونې خو ښایسته دي، د گل رحمن لور به درته وغواړو، په کار هم ښه پوهېږي، خو ما هغې سره وعده کړې وه چې د خپل کور ناوې کوم به دې؛ کله چې ما پرې مرکه وکړه، نو پلار یې ویل، چې دې بیکاره او دولسم پاس ته زه خپله لور نه ورکوم، ما هم ضد ونیولو چې باید مسافر شم، مزدوري او خواري به وکړم، تر څو ملک نه څو برابره پیسه دار شم.

ملگرى مې ځان ته نژدې کړ، اوښکې یې پاکې کړې.

ورته مى وویل:

ـ ته خو نارینه یې باید ونه ژاړې.

عالیې! دا چې زه هم تا پسې خپه وم، نو ما هم د زړه نه تا پسې ښه ډېر وژړل، هر انسان یوې مجبوري راخیستی وي او دا سختې لارې په ځان قبلوي، تر څو کورنۍ یې ارامه او هوسا ژوند وکړي.

موبایل بند شو.

دوه ورځې تېرې شوې خو د منصور موبایل کار نه کولو.

زړه ته مې سل خبرو کډه را وکړه چې څه به شوي وي؟

همداسې ورځې تېرېدلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شل ورځې وروسته يې زنګ ووهلو، ډېره خوشحاله شوم.

شکر مې ويست، چې يا الله شکر چې روغ او جوړ دی.

موبايل مې غوږ ته نژدې کړ.

لنډې خبرې مې ورسره وکړې، اواز يې راته د جنت نه کم نه و، ځکه ډېر وخت وروسته مې اورېدلی و.

د اوږد انتظار نه وروسته درې مياشتې تېرې شوې، چې منصور ترکيې ته ورسېده.

په دې ورځ ډېره خوشحاله وم، ګلاب جامن مې ووېشل.

مور مې راته حيرانه وه، چې څه خبره ده؟ خو هغې ته مې بهانه وکړه چې يوه ملګرې مې نامزاد شوې ده. ))

عاليه وويل:

ـ بس دی سترګو کې مې دوا اچوم، وخت مې پوره شوی، ډاکتر راته ويلي چې دوه ساعته وروسته يې غوړوه.

موبايل بند شو.

درې ورځې لا تېرې نه وې، زه په خپلو درسونو بوخته وم. عاليې بيا زنګ را ووهه.

ـ سلام څنګه يې؟

ـ ښه نه يم، د سترګو نظر مې ورځ تر بلې کمېږي، غوښتل مې زنګ درته ووهم، خو نمبر راته خيره ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره خپه شوم، ورته مې وويل:

ـ تا خو ما ته نه وو ويلي چې ستا نظر کم شوی دی.

ـ ګرانې! نه مې خپه کولې، ښه غوږ شه.

(( منصور خپلې موخې ته ورسېده، کار يې هم پيل کړ.

خوشحاله و، وخت نا وخت به مو ويډيو کال کولو.

يوه ورځ يې راته وويل، چې کار مې ښه دی، سبا مې مور ته زنګ وهم، چې په مرکه درشي.

ورسره مې ومنله، سبا مازيګر يې مور راغله.

ډېر قدر مې ورته وکړو.

چای مې ورته راوړ، مېوه داني مې ورته مخې ته کېښوده.

منصور مور زما مورجانې سره خبرې کولې.

خو ټول پام يې ما ته و.

يوه خبره ده، جينۍ چې هر څومره زړه وره شي، څوک چې مرکه راغلې وي، د هغوی مخکې تاثير لاندې راځي.

زه ناسته وم چې مور مي راته اشاره وکړه، چې لاړه شه!!

پام مې نه و، چې پښتانه د جينۍ مخکې د روی باري ياده نه کوي، زه کوټې نه ووتلم.

هغې هم ژر زما مور ته يې ياده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې ورته وويلې، چې ښه سمه ده، بيګاه ته به يې پلار سره دا موضوع شريکه کړم.

مور مې خوشحاله ښکارېدله.

هلک يې په زړه و، ويلې ښه دی، خارج کې هم دی.

بيګا چې کله مې پلار راغلو، نو ورته يې ياده کړه.

پلار مې وويل:

ـ هلک چېرته دی؟

ـ ترکيه کې دی.

ـ ترڅو چې دلته راغلی نه وي، نه يې ورکوم.

له دې خبرې دوه ورځې تېر نه وې، چې د منصور مور راغله.

مور جانې مې ورته د پلار خبره وکړه.

د منصور مور وويل، هغه خو لا قبول شوی نه دی.

کله مو چې خبره پخه شوه، نو تر هغې به هغه هم قبول شي، بيا به واده ته راشي...

مور مې وويل، چې دا هم ښه خبره ده.

خو پلار مې په خپله خبره ولاړ و، د هېچا يې نه اورېدله.

يوه شپه منصور ډېر نا امېده شوی و، ما ورته وويل، چې مه خپه کيږه، وبه شي دومره اسانه چا ښځه کړې، ها!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا شو، چې هر ډول وي، ته زما يې، هر څه مې چې په وس کې وي، کوم يې. که ستا پلار دا غواړي چې زه بېرته درشم، نو سمه ده درځمه...

خو ما ورته وويل، ليونی کېږه مه، الله به خير کړي، دومره په سخته تللی يې، اوس که راشې، نو دلته به څه وکړې، زما بيا په هغې دوکان پيرزو نه يې، حوصله وکړه.

اوونۍ کې به يو ځل د منصور مور موږ کره راتلله.

په ديارلسمه مرکه کې راته منصور وويل، چې که دا ځل ونه شو، مور مې وايي، زه بيا نه ورځم، چې نه يې راکوي، څه زور خو مو ورسره نشته.

ډېره خپه وم، چې څه به کېږي، ما هيله ورکړه، چې دا ځل به مې پلار هو وايي.

خو د پلار خبره مې هماغه يوه وه او نه يې غوښتل چې بغير د ناستې او ليدلو نه خپله لور چا ته ورکړي.

هغه هم په خارج خلکو سخت بې اعتباره و.

ملامت هم نه و، ځکه چې زموږ خلک خارج ته لاړ شي، نوه يوه ښځه هلته لري او په دوکه دلته بله وکړي.

په ديارلسم ځل د منصور مور ته بيا هم انکار وشو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له دهلېزه خپلې کوټې ته لاړم، د کرن خان غمګينې ټپې مې موبايل کې چالانې کړې.

ښه ډېر مې ورته وژړل.

خپل په قسمت مې افوسوسونه کول، چې خدايه ولې دې میین کړو، چې اوس مو نه يو ځای کوې.

خو زما ژړا هېڅ هم ونه کړه، زما درد يې کم نه کړ، لا يې ډېروه.

هغه هم داسې درد چې چا ته د ويلو هم نه و.

ځان سره مې يو څو ټپې زمزمه کړې:

**که نصيبونه کنـډولی وای**

**ما به دا خپل په دېواله ويشتلی ونه**

***

**کــه نصيبونـه ځــــنګلی وای**

**ما به دا خپل نصيب په اور سيزلی ونه**

له ځان سره په زمزمو اخته وم، په دې وخت کې راته منصور زنګ ووهلو، اوکې مې کړ.

ـ ولې دې اواز داسې ژړغونی دی.

ـ نوره مو خبره ختمه شوه، پلار مې په هېڅ نه راضي کېږي.

زما په دې خبرې سره منصور ډېرخپه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه یې وکړ، ما یې درد په خپل زړه کې احساس کړ. موبایل یې پرې کړ.

خو د ناچارۍ ورځې وې، هېڅ مې هم نه شو کولی، مور پښتانه خو ویلی هم نه شو چې «چا سره مینه لرم»

که څوک پرې خبر هم شي، نو د لحد خاورې به پرې مړې کړي.

یوه اوونۍ مې له منصور سره خبرې ونه کړې.

ورځ تر بلې ډنګره کېدلم، خوراک به مې نه کولو، اشتها مې ختمه شوې وه.

مور په ډاکټرانوګرځولم، خو یو هم زما درد او مرض نه شو تشخیص کولی او د سترګو اوښکې می هېڅ نه درېدلې.

مازیګر ناسته وم، چې زنګ راغلو اوکې مې کړ.

منصور خبرې کولې ما صرف ورته غوږ ایښی و.

د خبرو توان مې له لاسه ورکړی و.

ویل یې، باید دلته له کومې جینۍ سره چې قبولې یې ورکړې وې، واده وکړم، ګني نو له ترکیې مې شړي.

خو دا زما زړه نه مني، چې ستا ځای دې بل چا ته ورکړم او د ژوند همسفره یې کړم، ما چې کوم خوبونه تا سره لیدلي، بل چا سره یې نه شم پوره کولی، ستا ګلابي څېره مې نه هېرېږي. د مسکا ډکه خوله، نرۍ قلمي ګوتې، کله چې ما په اول ځل ستا لاس خپلو لاسونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګ ونیوه، نو له ما یې نوره نړۍ هېره کړه. تر اوسه ما کومې جینۍ ته نه دي کتلي...

خبره مې ور پرې کړه، ویې کړه نو؛ زه به درته څه ووایم، چې پلار مې نه درکوي، ته خو مجبور نه یې چې ما ته کېنې، ته هم خپل ژوند جوړ کړه.

دا خبرې مې هسې په خولې کولې، خو زړه نه مې الله خبر و چې هېڅ مې دا نه شوه منلی چې منصور دې د بل شي.

د هغې هره خبره به مې زړه ته نېغه ودرېده، په زړه به یې ګوزارونه راکول، چې هغه وعدې څه شوې، تل به یې راته ویلې، ستا په نوم به ناست یم... توبه توبه!!

منصور را باندې غږ وکړ:

ـ پاتې د کار خبره ده، هر څه ځان لپاره کولی شم.

ـ اه!!

ـ ته به څنګه کوې؟

ـ زما زړه کې بل چا ته ځای نشته، تل به د یوه بایلونکي په نوم ناسته یم.

تلیفون مې ور پرې کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یو بل چا څخه خبره شوم، یوې افغانۍ جینۍ سره چې ترکیه کې له پخوا نه اوسېدله او څه وخت کېده چې ورسره ملګرې وه، د واده خبره یې ورسره پخه کړه.

د واده په ورځ یې ما ته زنګ ووهلو، چې واده مې دی، ویډیو کال یې کولو، چې زه دا هر څه وګورم.

خو ما ورته وویلې، نه غواړم چې د شاه په جامو کې دې په داسې حال وګورم،

چې ناوې دې زه نه، بل څوک وي او په تا د خوشحالۍ ورځ غم کړم.

مسافر شوی او د بل شوی یې، اوس به دې څه کړم دیدنونه.

ته به خوشحال یې او زه به ژاړم، دا دواړه کله خوند کوي؟

په تونده لهجه یې وویل، مجبور یم، که نه زما زړه چېرته دا مني.

زما په واک کې هېڅ هم نه و، زه څه پوهېدم، چې تقدیر مې تر دې ځایه راولي.

اول ستا د پلار انکار کول او بیا د ترکیې حکومت نه د ځان خلاصولو همدا یوه لاره راسره ده.

ما یو یوازې همدا بیت ورته وویل:

**ما درته ویل مسافر مه شه**

**جینکې ډېرې ما به هیره کړې میینه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل مې بند کړو.

سترګو مې خپله ښکلا له لاسه ورکړې وه، د زړه درد په وجه به مې سترګو اوښکې تویولې.

ډاکترانو ځواب راکړی و، چې تر هغو نور په سترګو لیدی نه شم، څو چې ژړا مې بس کړې نه وې.

وجه دا وه، چې د سترګو اوبه مې بیخې ختمې شوې وې. ))

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**